DAILY
اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۲۰

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ.ل

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

افغانستان داسیا د فول کانټکټ کېک بوکسینګ د سیالیو اتل شو

افغانستان د اسیا د فول کانټکټ کېک بوکسینګ د سیالیو اتل شو او د نړیوال مسلکي بوکسینګ او ۱۵ اسیایي هېوادونود جودو په سیالیو کې یې د ژېړو یو ،یو مډال تر لاسه کړ.

یادې شوې سیالی د کب له ۷ مې تر نهمې نېټې په هندوستان کې ترسره شوې او نژدې د ۴۰ هېوادونو لوبغاړو په کې ګډون ګړی و.

د ملي المپیک کمېټې د چارواکو په وینا، افغانستان د سرو زرو د پنځو، د سپینو زرو د یوه او د ژېړو مډالونو په ګټلو سره د اسیا د **۳مـــخ**

نهم کال - دویمه دوره، ۷۲۰ مه ګڼه، پر ۰ پسې ۱۷۸۸ ګڼه، د ۱۳۸۸ ل ـ د کب ۱۲ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الاول ۱۶ مه د ۲۰۱۰ د مارچ ۳ مه

وضع محدودیت های تازه، آزادی بیان را کمرنگ می سازد

در حالی که آزادی بیان، یکی از دستاوردهای مهم دولت در طول هشت سال گذشته پنداشته می شود، اما دولت با گذشت هر روز و با وضع محدودیت تازه در این راستا حلقه بر رسانه های آزاد را تنگتر می سازد. وضع محدودیت در پخش مستقیم جریان حوادث تروریستی در افغانستان از سوی نهادهای امنیتی کشور، با واکنش های منفی مسوولان رسانه ها مواجه شده است.

وزارت داخله افغانستان با ارسال نامه یی به رسانه های تصویری از آنان خواسته است که از پوشش مستقیم حوادثی مانند انفجارهای اخیر در کابل، پرهیز کنند.

در نامهٔ وزارت داخلهٔ کشور آمده است که پخش مستقیم چنین حوادثی می تواند، به شورشیان و مهاجمان کمک کند.

در پی انفجارهای انتحاری روز جمعه، ۷ حوت در مرکز شهر کابل، که سه مهاجم مسلح با مسلسل، نارنجک و مواد منفجره در آن شرکت داشتند، منجر به کشته شدن ۱۶ تن و زخمی شدن ۳۸ نفر شد.

در این حادثه در پی وقوع یک انفجار قوی، صدای چند انفجار کوچک و تیراندازی شنیده شد و تیراندازی تا حدود سه ساعت دیگر ادامه یافت. شماری از تلویزیون های خصوصی جریان این حادثه را به طور مستقیم پخش کردند.

عبدالغفار سیدزاده، رییس تحقیقات جنایی پولیس کابل به بی بی سی گفت که درخواست عدم پخش مستقیم این گونه حوادث بر اساس دلایلی، از جمله جلوگیری انتشار آنچه که او "اسرار نظامی" در هنگام اجرای عملیات خواند، مطرح شده است.

او گفت: "می شود که نشر مستقیم این (گونه حوادث) ده ها خطر را برای ما و ملت و مردم در پی داشته باشد. برای جلوگیری از همین خطرها نهادهای امنیتی و تقریباً شورای امنیت ملی دستور به (وضع محدودیت) داده است".

سیدزاده گفت که این درخواست شامل حال همه رسانه های داخلی و خارجی می شود. او تاکید کرد که خبرنگاران تنها پس از پایان عملیات نظامی، و استخباراتی می توانند، فلم بگیرند و اطلاعات تهیه کنند.

اما رحیم الله سمندر رییس اتحادیهٔ خبرنگاران افغانستان این تصمیم نهادهای امنیتی را مورد انتقاد قرار داد ص۳

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د زړه بریالي عملیات ترسره شول

افغان ډاکټران وایي، دا عملیات یې له بهرنیو متخصصینو پرته په بري سره ترسره کړي. خو د کابل د ابن سینا روغتون ډاکټران بیا زیاتوي، که له مور سره د مجهزو وسایلو مرستې وشي، نو کولای شو چې په راتلونکي کې هم داسې عملیات ترسره کړو. د کابل د ابن سینا روغتون ډاکټران ډېرخوشحاله وو، چې د لومړي ځل لپاره یې، په هېواد کې داسې یو مهم او پېچلی جراحي عمل ترسره کړی دی.

د کابل ښار د ابن سینا روغتون ته په دې وروستیو کې د زړه داسې یو ناروغ وروړل شوی و، چې د مرګ او ژوند ترمنځ فاصله یې وروستیو شېبو ته رسېدلې وه. **۳مـــخ**

مجددي: نړیواله ټولنه نه غواړي، چې د القاعدې او طالبانو مشران په نښه کړي

د مشرانو جرګې مشر پرنړیوالې ټولنې ټور ولګاوه، چې نه غواړي د القاعدې او طالبانو مشران په نښه او امنیتي حالات کابو کړي.

د مشرانو جرګې مشر صبغت الله مجددي دغه څرګندونې د دې جرګې په عمومي غونډه کې، چې د هېواد پر امنیتي حالت د بحث لپاره ځانګړې شوې وه، وکړې.

مجددي وویل، نړیواله ټولنه د دې ځواک لري، چې د ستلایت له لارې د پر کوچنی ځیز هم په نښه او هغه له منځه یوسي، خو دوی نه غواړي، چې له خپلو امکاناتو څخه په استفادې سره د القاعده مشر اسامه بن لادن او د طالبانو مشر ملامحمدعمر له منځه یوسي.

مجددي دا هم وویل، چې د افغانستان په ناامنیو کې تر ډېره بریده د پاکستان استخباراتي شبکه آی اس آی لاس لري.

هغه وایي چې نړیواله ټولنه باید دغه اداره له ترهګرو سره له همکاري څخه منع او د ترهګرو ځالې په دغه هېواد **۳مـخ**

استرالیا کمک هایش رابه افغانستان افزایش می دهد

وزارت دفاع استرالیا دیروز اعلام کرد، این کشور کمک های خود را به ولایت ارزگان افغانستان افزایش می دهد.

به گفتهٔ مسوولان دفاعی استرالیا، این کشور به منظور بهبود وضع زنده گی روزمرهٔ مردم افغانستان، قصد دارد، در بهبود وضع امنیتی، اداره و انکشاف ولایت ارزگان مشارکت کند.

از جملهٔ این طرح ها، احداث یک مرکز جدید بازیافت زباله در ترینکوت مرکز ولایت ارزگان، دو مکتب ابتدایی و متوسطه پسرانه و یک مکتب دخترانه و احداث چندین پل در شهرهای دیگر این ولایت است.

به گزارش خبرگزاری شینهوا از کانبرا، اندرو هاکینگ یکی از مسوولان نظامی استرالیا انکشاف افغانستان را عامل مهمی در شکست دادن طالبان در این کشور دانست.



گامی بسوی اجاره دهی دموکراسی

۲

د درېیو ښوونځیو د ودانیو جوړېدو کار پیل شو

د غزني په ښار کې د هغو درېیو ښوونځیو د جوړېدو کار پیل شو، چې بوه میاشت مخکې یې د جاپان سفارت د لګښت د ورکړې ژمنه کړې وه. د غزني د پوهنې رییس حسني مبارک عزیزي وایي، دغه درې ښوونځي به په پاخه او اساسي ډول د شامیر، د غزني د کوچیانو او جهانملکې لېسو د پخوانیو ودانیو ترڅنګ جوړ شي.

عزیزي د کب پر ۱۱مه وویل، پر دې هر ښوونځي دوه سوه زره امریکایي ډالره لګښت راځي، چې ټولې پیسې یې ۲۰۰ زره امریکایي ډالره کېږي او د ودانیو د بشپړېدو چارې به یې شپږ میاشتې وخت ونیسي.

دغه راز نوموړي زیاته کړه چې دغه هره ودانۍ به ۱۴ درسي خونې ولري او شاوخوا د ۱۵۰۰ زده کوونکو د ځای د تنګسې ستونزه به هواره شي.

د عزیزي په وینا، د جاپان سفارت د شپږو نورو ښوونځیو لپاره د نوو ودانیو د جوړېدو ژمنه هم ورسره کړې ده. د غزني د مرکز اړوند د ۵۵ ښوونځیو ۴۰ سلنه زده کوونکي د ځای د نشتوالي له امله په کېږدیو کې زده کړه کوي. **۳مـــخ**

سه و نیم میلیون نیروی فعال در افغانستان بیکار اند

با برگشت سیل آسای مهاجران از کشورهای همسایه و با از بین رفتن زیربناهای دولتی در سال های اخیر، بیش از سه و نیم میلیون نیروی فعال کاری در کشور از نبود کار رنج می برند. واصل نور مهمند معین وزارت کار امور اجتماعی و شهداء و معلولان در این راستا با بیان این مطلب می گوید که اکثر این بیکاران از کشورهای همسایه مانند ایران و پاکستان و ولایات دوردست وارد کابل شده اند، تا یک شغل مناسب را با درآمد خوب پیدا کنند. مهمند، علت اساسی افزایش روزافزون بیکاران را نبود برنامه های کاری منظم و خشکسالی های اخیر عنوان نموده، می افزاید که افغانستان یک کشور زراعتی است و این خشکسالی ها باعث شده که شمار بیکاران همه روزه افزایش یابند. بر بنیاد گفته های وی، بیش از ۸۰ درصد اقتصاد مردم به زراعت استوار است، اما با خشکسالی های پیهم در کشور، این درصدی کاهش یافته و مشکلات مردم را دو برابر افزایش داده است.

اما مهمند خاطر نشان می کند که وزارت آنها توانایی ندارد که برای تمام این افراد، زمینهٔ کار را فراهم سازد. مقام ها در وزارت کار امور اجتماعی می گویند که هیچ ارگان دولتی یا خصوصی نمی تواند، خارجی ها را در کار ص۳

د امریکا متحد ایالات وایي:

لا هم په افغانستان کې نشه یي توکي لویه ستونزه ده

په افغانستان کې جوړېدونکي نشه یي توکي روسیې او نورو اروپایي هېوادونو ته قاچاقېږي

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د دوشنبې پر ورځ ناوخته وویل، په تېرو دوو کلونو کې په افغانستان کې د کوکنارو کښت کم شوی، خو لا هم په دې هېواد کې د هیروییو او تریاکو تولید یوه لویه ستونزه ده. د نشه یي موادو له نړیوال قاچاق سره د مبارزې لپاره د امریکا د باندنیو چارو وزارت مرستیال ډېوېډ جانسن خبریالانو ته وویل، له ۲۰۰۷ زېږدي را په دې خوا په افغانستان کې د کوکنارو کرکیله په سلو کې اویا (۷۰) کمه شوې، خولا هم ډېرکار ته ارتیا ده چې باید په دې هېواد کې وشي.

ده وویل چې د کوکنارو کرکیله په پراخه پیمانه کمه شوې، خو د مخدرو موادو تولید لا هم لویه ازموینه ده.

جانسن وویل امریکا او په افغانستان کې نورو ایتلافي هېوادونو خپل پام په دې هېواد کې د کوکنارو له کرکیلې د مخدرو موادو د قاچاق مخنیوي او د کوکنارو پرځای د نورو کښتونو د **۳مـــخ**

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

ازادي رسنۍ، بې پرېتوب او نوې ننګونې

د هېواد اوضاع د هرې ورځې په تېرېدو لا پسې خرابېږي، د بدامنیو او تاوتریخوالو لمنه د هېواد په ګوټ ګوټ کې مخ په پراخېدو ده، بې عدالتي او ناقانوني ټولوته معلومه ده، چې کومې کچې ته رسېدلې، فساد او د مافیایي ډلو ټپلو یلغار او چپاول خلك تر سپړمو راوستي، په لنډه توګه، باید ووایو، چې تمه له تمه شکېدلې او هېواد د نورو ناورینونو پر لور ګامونه اخلي. خو له دې ټولو سره سره، هغه یوازېنۍ څه، چې دولت د تېرو اتو کلونو په اوږدو کې وربانديې حساب او کابل مېشتو چارواکو پرې ویاکاوه، د بیان ازادي وه. د همدې موضوع په پام کې نیولو سره، د تېرو اتو کلونو په بهیر کې د رسنیو قانون رامنځته او د دویم ځل لپاره تصویب شو، چې له برکته یې د هېواد په لر او بر کې په سلګونو خپلواکو چاپې، غږېږو او انځوریږو رسنیو پر فعالیت پیل وکړ. دا چې د دغو رسنیو محتوا او د خپرونې بهیر څرنګه ارزول کېږي، دا بېله موضوع ده، چې هر ورځ وربانديې لیکنې او څېړنې کېږي.

باید ووایو، که د تېرو اتو کلونو حالات وڅاڅو، په رښتیا هم، د ازادو رسنیو تکثر، پراختیا او غښتلتیا هغه څه ده، چې د دولت او افغانستان د ټولو کړنو او لاسته راوړنو په سر کې راځي. دا هغه مسئله ده، چې ولسمشر کرزي هم په هر مجلس کې د خپلو وینا‌وو شمله ګرځولې او په وار وار یې ډاډ ورکړی، چې د ازادو رسنیو او خبریالانو د سر او امن ساتنه کوي او پر دې هوډ کلك ولاړ دی، چې د ازادو رسنیو د لا پیاوړتیا او غوړېدا په موخه ګامونه واخلي. خو په دې وروستیو کې، دغه لاسته راوړنه د دولت او په هېواد کې د ځینو کړیو د ښکاره او نابښکاره ګواښونو له امله ګمرنګه شوې، دا سې ښکاري چې په دې وروستیو کې پر ازادو خبریالانو او رسنیو باندې هم کړې، ورځ په ورځ تنګېږي. خبریالان ګواښل کېږي، بندیان کېږي او بلاخره وژل کېږي. که څه هم دولت د دې پېښو د څېړنې او تحقیق ژمنه کړې، خو تراوسه د دې ژمنو د ثمره کېدو ځړک تر سترګو شوی نه دی.

د ټولو نه ها اخوا، په خپله د دولت په دننه کې هم، یو شمېر کړۍ او ستې د ازادو رسنیو د فعالیت اغېزمنتیا د ځان لپاره ګواښ ګڼي او له بېلا بېلو لارو هڅه کوي. چې د ازادو رسنیو د خپرونو او فعالیتونو لپاره خنډ او خنډې له دې برخه کې مورچې کولای شو، چې د هېواد د ولسي جرګې او مشرانو جرګې خو میاشتې مخکې ګوتخنډنه یاده کړو، چې په ترڅ کې یې یو شمېر رسنیو ته ګواښ کړی و که خپلې خپرونې د ملي شورا له مزاج سره برابرې نه کړي. حارنوالي ته به یې معرفي کړي. په هر حال، دا د قدرت له ادرس څخه د دې ورځې وروستۍ ننګونې نه دي، ورڅه ورځ د کورنیو چارو وزارت او د هېواد یو شمېر نورو امنیتي ادارو هم خبریالانو ته ګوتخنډه وکړه، چې له دې امله رسنۍ نه شي کولای، د طالبانود عملیاتو له جریان څخه په مستقیم ډول خپرونې وکړي، د امنیتي ادارو مسوولینو همدارنګه څرګنده کړې، چې دغه لړۍ، د طالبانو په ګټه تمامېږي، نو ځکه دوی پرې بندیز لګولی. په هر صورت، د دولت وروستۍ پرېکړه چې له یوې خوا د ازادو رسنیو او خبریالانو پر وړاندې نوې ننګونې او تازه محدودیت بللای شو، له بلې خوا، دغه نوی بندیزونه د دې لامل ګرځي، چې هېوادوال او نړیوال د افغانستان د پېښو په اړه یوازې د افغان چارواکو او ناټو مسوولینو څرګندونو ته غوږ شي، هغه څه چې په هېڅ صورت نه شي کولای، د پېښو رښتینې او رون انځور خلکو ته وړاندې او په ترڅ کې یې بې پرې ژورنالیزم، لکه څرنګه چې لازمه ده، وکولای شي د پېښو په انتقال او د حقایقو په خپرولو سره، خپل رښتینی ایماني او وجداني مسوولیت ادا کړي.

ایراني بلوچان او د اخوندانو استبدادي نظام

یوازې یوه ژبه د رسمي ژبې په توګه کارول کېږي او له شیعه مذهب پرته د نورو مذهبونو خلک له کړاونو سره مخ دي.

د یادونې ده، چې د ایران اخوندي ډیکتاتوري نظام هر ډول روا او ناروا هڅو ته یوازې د شیعه مذهب له عینکو ګوري او د مخالفت په صورت کې یې په بې رحمۍ سره ځپي. دا تصادفي نه ده، چې ایران په نړۍ کې تر چین د اعدامونو په برخه کې دویم مقام لري. خو د چین د وګړو په تناسب د سلنې په حساب بیا لومړی مقام لري.

دا څرګنده ده، چې هرته چې نیاو وجود ونه لري. هلته کړکېچونه رامنځته کېږي او په ایران کې یې وسلوالې نښتې او وروستي لاریونونه ښې بېلګې دي.

راځئ د بلوچانو د وسلوالو جګړو او مبارزې یوه بېلګه د عبدالمالک ریګي د ژوند او هڅو ته په کتو سره، خانته روښانه کړو:

عبدالمالک ریګي:

پر ۱۹۸۳ زېږدي کال د ایراني بلوچستان په ریګي قبیله کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. د ریګي ژوند پېچلی دی، د ښوونځي پر ځای یې په ایراني بلوچستان کې مدرسې ته مخه کړې وه، د ۱۹ کلو به و، چې وسلوالې مبارزې ته یې لاس واچوه. وړاندې تر دې، چې له ایراني نظام سره خپل مخالفت رابرسېره کړي، په زاهدان ایالت کې بندي شو. کله چې له بند راخلاص شو، په ایران کې یې له سني عالمانو وغوښتل، چې له جندالله خپل ملاتړ څرګند کړي. د ایراني سرچینو د معلوماتو له مخې عالمانو یې پر خبره سر ونه ګراوه، خو د مخدره موادو کاروباریانو ورسره ژمنه وکړه او د ده ملاتړ ته یې د وسلو او پېسو برابرولو ټینګ ووایه، خو ریګي دا ډول تورونه ردوي او زیاتوي، زه د ارتیا وړ شیان د خلکو له بسپنو څخه تر لاسه کوم.

تر دې د مخه چې د جندالله بنسټګر شي، د ایران د استخباراتو یو مامور یې په چاقو وهلی و، چې له امله یې زندان ته ولېږدول شو او تر ټاکلې مودې وروسته را خوشې شو. د ده ستر ارمان لکه خپله چې وایي، په ایران کې سني مسلمانانو ته د هغوی سیاسي او مدني حقونه تر لاسه کول دي. د ایراني سرچینو له مخې نومورې له امریکا او موساد سره پر اړیکو تورنوي، خو د دې خبرې کره ثبوت تر اوسه نه شته.

ریګي خان ایراني ښیي او د خپلې مبارزې په ترڅ کې د خپلو مخالفینو دا نیوکه له ځېرمې ردوي، چې ګنې دا د بلوچ ستېټ لپاره هلې ځلې کوي، بلکې موخه یې د بلوچانو د ورځنۍ وضعیت رغول دي. د ۲۰۰۷ زېږدي کال د اپریل پر دویمه د امریکا غږ پارسي سرویس ورته د ایراني نظام پر وړاندې

۳ مخ

قانون انتخابات:
گامی بسوی اجاره دهی دموکراسی

به قلم: دکتراندس م. ن. هیکل ←——— قسمت سوم

لخک گذاری انتخاباتی و دموکراسی

استدلالی که هواداران دموکراسی غیرمستقیم در برابر هواداران دموکراسی مستقیم ارایه می دارند، در اساس دارای دو قسمت می باشد که یکی آن، دشواری های عملی و دومی، توانایی تصمیم گیری افراد جامعه را مورد سوال قرار می دهد. در این رابطه، هیأت و درجهٔ دموکراتیک بودن میکانیزم ها نیز مطرح است که عصارهٔ دموکراسی را می سازد و راز برتری دموکراسی بر سایر نظام ها در آن نهفته است. در رابطه با تحدید حق انتخاب شدن نیز، می توان نگرانی های مشابهی را شناسایی کرد و از زمره می توان پرسید، تعیین شروط ورود به انتخابات به مقام های انتخابی در کدام حالات دموکراتیک می باشد؟ در این راستا سه حالت را می توان شناسایی کرد:

۱) تعیین شروط به وسیلهٔ دیکتاتوری اقلیت: اقلیت شروط را تعیین و به تصفیه یا فلتر نامزدان انتخابات می پردازد.

۲) تعیین شروط به وسیلهٔ نماینده گان مردم (د یکتاتوری اکثریت): نماینده گان مردم که در واقعیت امر اکثریت حاکم می باشند، شروط را بحیث سند تقنینی تصویب می نمایند. این مدل به مدل دموکراسی غیرمستقیم نزدیکی دارد.

۳) مردم خود نماینده گان خودرا برمی گزینند: نامزدان برای رای مردم در مرحلهٔ مقدماتی به رقابت می پردازند و مردم نماینده گانی را که می خواهند، به مقام ها برمی گزینند. این مدل به دموکراسی مستقیم نزدیکی دارد.

چگونه می توانیم دریابیم که کدام یک از میکانیزم های یاد شده ماهیت بیشتر دموکراتیک را دارا می باشد؟

در دو حالت نخستی شرایط ورود به انتخابات مقام های انتخابی بحیث " لخک" تعیین می گردد و نامزد بدون گذشتن از آن نمی تواند، وارد محوطه گردد و در حالت دومی، " لخک" یاد شده در عمل از سوی مردم تعیین می گردد. ارایهٔ کارت های رای دهی به وسیلهٔ نامزد در قانون فعلی عبارت از رای می باشد که در حالت سومی توسط رای دهنده داده می شود. در دموکراتیک بودن این میکانیزم کمتر شک می توان کرد در حالی که در ارایهٔ کارت های رای دهی به حیث رای تاییدی مردم از نامزد مفروض تنها نشان می دهد که دارندهٔ کارت تبعهٔ افغانستان و واجد شرایط رای دهی می باشد. سوال درستی و نادرستی کارت و اطلاعات ثبت شده در کارت و نحوهٔ حصول آنها همه می توانند، مورد سوال قرارداده شود. چنانی که می بینیم، تصمیم څارنوالی افغانستان مبنی بر پیگرد قانونی برخی از نامزدان ریاست جمهوری در انتخابات سال ۱۳۸۸ را که ده هزار کارت رای دهی ارایه کرده اند، مگر ده هزار رای نبرده اند، هم درستی کارت ها و هم صداقت نامزدان را مورد سوال قرار می دهد. (در اینجا قانونی بودن این اقدام مورد بحث ما نیست، تا بر آن بحث نماییم.)

گذشته از آن، سه میکانیزم یادشده، خود گویای دموکراتیک بودن یا غیردموکراتیک بودن خود می باشند.

بجاست پرسیده شود، چرا به دنبال انتخابات ریاست جمهوری و تثبیت خلاها و ابهام ها در قانون انتخابات به رفع آن از جانب حکومت و پارلمان اقدامی صورت نگرفت؟ آیا تعدیل قانون به وسیلهٔ فرمان قابل تبریه است؟ در حالی که بر اساس حکم مادهٔ ۱۰۹ قانون اساسی: " پیشنهاد تعدیل قانون انتخابات، در یک سال اخیر دورهٔ تقنینیه، در فهرست کار شورای ملی داخل شده نمی تواند."، " تصویب، تعدیل یا لغو قوانین و فرامین تقنینی" مطابق مادهٔ ۹۰ قانون اساسی، از صلاحیت های شورای ملی باقی می ماند. این گمان را می شود با دلایل مشهود مورد حمایت قرار داد که تحکیم، تقویت مناسبات ملوک الطوایفی و رشد آن تا سطح کلویج های سیاسی در محراق استراتیژی سیاسی در افغانستان قرار داده شده است. اقداماتی را در عرصه های مختلف می توان شناسایی نمود کهٔ دال بر این تمایل می باشد. ایجاد اربکی ها، وضع شرایط دشوار برای ثبت احزاب سیاسی { رجعت قانون احزاب سیاسی به ماقبل آن بر خلاف حکم بند دوم ماده ۱۰ قانون مدنی. (" احکام قانون به ماقبل رجعت نمی کند، مگر در حالاتی که در خود قانون تصریح شده و یا احکام آن متعلق به نظم عامه باشد.) دشوار ساختن شرایط استفاده از حق انتخاب شدن برای مردم، عبارت از اقداماتی است که به رشد مناسبات ملوک الطوایفی تا حد کلویج های سیاسی کمک می نماید. نظام ملوک الطوایفی کنونی ما عبارت از نظامی می باشد که در آن، متنفذان قومی و طایفه یی با امکانات و وسایل نظامی، مالی و سازمانی بر ساختارهای اتنیکی، فرهنگی و زبانی حاکمیت می نمایند. در حالی که سلطهٔ این عناصر در طی هشت سال گذشته، از راه های گوناگون تقویت گردیده و صلاحیت های آنان به رسمیت شناخته شده است، اکنون تداوم سلطهٔ متذکره از راه تغییرات در شرایط استفاده از حق انتخاب شدن تامین می گردد. تنها آنانی خواهند توانست، به مقام های ریاست جمهوری و مقام های نماینده گی مردم خویشتن را نامزد نمایند که از سنگر کلیویج های سیاسی نامزد گردند و یا به ساختارهای شامل ایتلاف سیاسی کنونی تعلق داشته باشند. دستیابی ده هزار یا یکصد هزار کارت بدون شک موجب رقابت نامزدان خواهد شد.

آنانی که از میان مردم برخاسته اند و از قدرت خرید پایین برخوردار اند، تنها می توانند، برای تغییر دموکراتیک در قانون امید بندند. این وظیفهٔ همهٔ نیروهای سیاسی بخصوص نماینده گان واقعی مردم در پارلمان است، تا از حق مردم برای انتخاب شدن که توسط قانون اساسی تضمین گردیده است، دفاع نمایند.

پایان

سه و نیم میلیون نیروی...

استخدام نمایند، اگر کدام نهاد این کار را انجام دهد، با آنان برخورد قانونی صورت می گیرد.

مهمند در پاسخ به این پرسش که آیا این بیکران به اثر مشکلات اقتصادی به مخالفان دولت نخواهند پیوست؟ گفت: "اگر افراد بیکار در مخالفت با دولت قرار بگیرند و به شورشیان دولت بپیوندند... روز خوش را نمی بینند."

این در حالی است که شماری از مردم از نبود کار مناسب و با عواید خوب شکایت دارند و از دولت می خواهند که زمینهٔ کار بهتر را برای شان مهیا سازد. یعقوب یکتن از جوانانی که در چک سازی منطقهٔ پل سرخ غرب کابل کار می کند، می گوید: "مشکل عمدا ما بیکاری است؛ با وجود اینکه میلیاردها دالر به افغانستان سرازیر شد، هنوز هم تعداد کثیری از افغان ها نمی توانند غذای سه وقت فامیل های شان را مهیا سازند."

این جوان گفت که صاحب کار او را امروز از سر چوک آورده، در حالی که در یک هفته هم برایش کار پیدا نمی شود، روزی که کار پیدا شود، آنهم پول کم می داشته باشد و کفایت فامیلش را نمی کند. وی افزود که موسسات حق اولیت کار را به خارجی ها می دهند .

گفته می شود که تنها بیش از ۳۰ هزار کارگر پاکستانی در کابل مصروف کارهای بازسازی اند.

به گفتهٔ یعقوب، مسلماً بحران بیکاری در افغانستان، فراتر و جدی تر از آن است که یک وزارتخانهٔ کوچک آنهم با بودجه و اختیارات محدود بتواند، یک تنه در برابر این بحران عظیم اجتماعی مقاومت کند.

بربنیاد گفته های وی، بیکاری و نبود زمینه های اشتغال خصوصاً برای تحصیلکرده های کشور که سالانه چندین هزار فارغ التحصیل در رشته های مختلف تقدیم می کند، معضلهٔ بسیار اساسی و بزرگی را برای جامعهٔ افغانستان به وجود آورده است. یک تن دیگر از این بیکاران که خود را جواد معرفی نموده و با ده ها جوان دیگر در چوک کارتهٔ پروان کابل، منتظر کار بود، گفت که بیکاری در کشور بسیار زیاد است و همهٔ مردم از این حالت رنج می برند. به گفتهٔ وی، دولت و بخصوص وزارت کار و امور اجتماعی، با اشاره به تلاش های شان می گویند، شمار بیکاران به حدی افزایش یافته که دولت در کوتاه مدت نمی تواند، به همه بیکاران شغل مناسب را فراهم کند، از همین سبب، شماری از جوانان فعال برای پیدا کردن کار به کشورهای همسایه می روند.

این در حالی است که عدم موجودیت فرصت های شغلی و محیط مناسب کاری مانند کارخانه های دولتی، سپردن منابع طبیعی چون استخراج معادن و ده ها کار دیگر به بهانهٔ کمبود تجربهٔ کاری به کارگران خارجی در شرایطی که افغانستان از جمع کشورهای مصرفی دنیا به شمار می آید، نقض آشکار حق کار برای مردم محسوب می شود.

به گزارش خبرگزاری روز، این عوامل باعث می شود که تعداد زیاد مردم بیکار، عده یی از ناچاری و فقر دست به گدایی زده و برخی دیگر راه قاچاق مواد مخدر و فروش مواد مخدر برای معتادان را در پیش بگیرند.

مجددي: نړیواله ټولنه نه...

کې په نښه کړي.

مجددي زیاتوي: «ترڅو چې آی اس آی د ترهګرو له همکاري لاس وانه خلي، افغانستان به ارامه نه شي.»

د مشرانو جرګې مشر وایي، که نړیواله ټولنه او افغان حکومت د پاکستان دغه اداره له دې کړنې څخه نه شي منع کولای، عامو افغانانو ته دې وسلې ورکړي، چې په خپله د خان دفاع وکړي.

د مشرانو جرګې دویم نایب محمدعلم ایزدیار وایي، له نړیوالې ټولنې څخه ډېرې هیلې کېدې. چې د هغوی په راتګ سره به په افغانستان کې د پام وړ پرمختګ وشي او امنیت به ټینګ شي.

هغه وایي چې د نړیوالې ټولنې تر راتګ وروسته د هېواد امنیتي وضعه ورځ تر بلې خرابه شوه.

ایزدیار وایي، ملي شورا په وار وار د امنیت د نبه والي په برخه کې حکومت ته طرحې وړاندې کړي، خو هغوی پرې عمل نه دی کړی.

د مشرانو جرګې غړی محمدحسن هوتک هم نړیواله ټولنه او افغان حکومت د امنیت د ټینګښت او د سولې د راوستو په پروسه کې ناکامه بولي. هغه وایي چې نه نړیواله ټولنه او نه هم افغان حکومت له مخالفینو سره د سولې او مذاکراتو لپاره کومه مشخصه طرحه لري.

د هوتک په وینا، طالبان باید پر ډلو ونه وېشل شي او له ټولو سره باید مذاکرات وشي.

خو بیا د مشرانو جرګې غړي صدیقه بلخي د هوتک دغه څرګندونې په کله رد وي او وایي، چې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې تر وروستي بریده هڅې کړې دي. چې امنیت کابو کړي. هغې وویل چې د افغانستان دښمن پیاوړی دی او د هغه په مقابل کې باید ملت هم له دولت سره یوځای شي. د پڑواک د رپوټ له مخې، د مشرانو جرګې د پرونۍ وړځې وروستۍ پربکړه دا شوه، چې له دې نظریاتو څخه یوه طرحه جوړه او د امنیت د ټینګښت لپاره یې حکومت او نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړي.

د درېیو شوونځیو د...

د پڑواک د رپوټ له مخې، د شامیر لېسې یو تن زده کوونکی ذکي وایي، د دوی پخوانۍ ودانۍ لس درسي خونې لري، خو د زده کوونکو شمېره یې زیاته ده او ځای یې تنګ دی.

تر دې مخکې د آلمان سفارت هم له پوهنې ریاست سره ژمنه کړې وه، چې په مرکز او ولسوالیو کې به د درېیو شوونځیو لپاره ورته ودانۍ جوړوي.

افغانستان داسیا د...

فول کانټکټ کېک بوکسینګ د ببلابېلو وزنونو د سیالیو اتل شو.

په دې سیالیو کې د افغانستان ۷ لوبغاړو ،دوو ترېنرانو او د لوبډلې یوه مشر ګډون کړی و.

د دې لوبډلې مشر نورالله شاروخي د کب پر ۱۱ مه، په کابل کې خبریالانو ته وویل. داسیا فول کانټکټ کېک بوکسینګ په سیالیو کې له افغان لوبغاړو څخه سلمان سلطاني د مثبت ۸۵ کیلوګرامه، ولي هوتک د مثبت ۲۳ کیلوګرامه، غلام رضا رسولي د مثبت ۵۷ کیلوګرامه، امین الله حسیني د مثبت ۵۳ کیلوګرامه او حسیب الله فیضي د مثبت ۲۷ کیلوګرامه په وزنونو کې یو، یو د سرو زرو مډال تر لاسه کړ.

شاروخي وویل چې حسیب الله فیضي د سرو زرو پر مډال سربېره په یادو شوو سیالیو کې د سرو زرو یو کمربند هم خپل کړ.

هغه زیاته کړه چې په دې سیالیو کې افغان لوبغاړي عبدالواسع قیومي د مثبت ۷۵ کیلوګرامه په وزن کې د سپینو زرو یو مډال او استاد فریدون د مثبت ۸۱ کیلوګرامه په وزن کې د ژیړو یو مډال ترلاسه کړ.

ده وویل چې یو افغان لوبغاړي عظیم ګل بهاوي د نړیوال مسلکي بوکسینګ په سیالیو کې د مثبت ۶۰ کیلوګرامه په وزن کې د ژیړو یو مډال وګاټه.

د المپیک ملي کمیټې د رسنیو مسوول محمدعارف پیمان وویل، په هغو سیالیو کې چې د هندوستان په هېواد کې داسیا د ۱۵ هېواد نو ترمنځ جوړې شوې وې، د جدو په منفي ۵۲ کیلوګرام وزن کې افغان لوبغاړي عاطفي د ژیړو یو مډال ترلاسه کړ.

عاطفي وویل، چې یادو شوو سیالیو کې یې د ایران، هندوستان اوبنګلادېش لوبغاړو ته ماتې ورکړه، خو د ازبکستان له لوبغاړي خځه یې ماتې وخوړه.

هغې زیاته کړه: «دغه سیالي زما لپاره په زړه پورې او سختې هم وې، ځکه چې له سخت رقیب سره مخ شوم او په راتلونکې کې به زیات تمرین وکړم.»

د المپیک د ملي کمیټې مشر محمد ظاهر اغبر د یادو لاسته راوړنو په ویاړ په کابل کې په جوړه شوې غونډه کې وویل، دولت ژمنه کړې چې د سرو زرو مډال راوړونکو ته به ۱۰۰ زره افغانۍ، د سپینو زرو مډال راوړونکو ته به ۸۰ زره افغانۍ او د ژیړو مډال راوړونکو ته به ۵۰ زره افغانۍ ورکړل شي.

هغه له دولتي او نادولتي موسسو وغوښتل، چې له هغو ځوانانو سره مرستې وکړي، چې افغانستان ته ویاړ راوړي او هغوی تشویق کړي.

د پڑواک د رپوټ له مخې، د المپیک ملي کمیټې د چارواکو په وینا، اوس مهال د افغانستان دوه لوبغاړي په جرمني کې د بوکسینګ د ازاد وزن په نړیوالوسیالیو کې پر لوبو بوخت دي او تراوسه یې یو د سرو زرو مډال ترلاسه کړی دی.

په افغانستان کې د لومړي...

د ابن سینا روغتون د صدري ځانګې جراح ډاکتر سلطان محمد ناجي وویل، دوی په لږو امکاناتو، خو په ډېر احتیاط سره وکړای شول، د یوه احتیاج تنکي ځوان ژوند وژغوري.

ډاکټر ناجي وویل، په اوسني پرسونل او نامکملو تخنیکي وسایلو به بیا داسې یوممهم او پېچلې جراحي عمل ته زړه ښه نه کړي.

ښاغلي ناجي زیاته کړه، دوی له مجبوریته دا عمل ترسره کړی، ځکه چې ناروغ تر نژدې ګاونډیو هېوادونو پورې هم ژوندی نه شوای رسېدلی.

د زړه ناروغ د بغلان اوسېدونکی یو ځوارلس کلن تنکی هلک و، چې په سختي یې خبرې کولې، دی هم خوښ و او له افغان ډاکترانو یې مننه کوله. دغه شان ناروغ وویل: "زه په بغلان کې په چاکو لګېدلی وم، ورو ورو مې درد نه زیاتېدل، ساه مې تنګېدله، رنګ مې تور او فشار مې ټیټېده.

په بغلان کې ډاکترانو ډېرې هڅې وکړې، بلاخره مجبورشول چې زه یې ابن سینا روغتون ته ورپېژندلم."

د ناروغ د کورنۍ غړو وویل، چې پر داسې ناروغانو باندې په نژدې ګاونډیو هېوادونو کې هم پنځه شپږلکه افغانۍ لګېږي او دوی یې د ورکړې وسه نه لرله.

د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، د ابن سینا د روغتون ډاکتران وایي، دوی مجهزو تخنیکي وسایلو ته ضرورت لري او د دې ترڅنګ، د دوی پرسونل ته باید مسلکي بورسونه ورکړل شي، چې بهرته لاړ او له نوي مسلکي پوهې او تجربې سره هېواد ته راستانه شي.

لا هم په افغانستان کې نشه یي...

کرلولپاره د کروندګرو هڅولو ته اړولی دی.

په افغانستان کې جوړېدونکي مخدر مواد روسیې او نورو اروپایي هېوادونو ته قاچاق کېږي.

روسیې د شنبې پر ورځ وویل، هرکال له افغانستان څخه شاوخوا ۳۵ ټنه خالص هیروییین د روسیې فدریشن ته قاچاق وړل کېږي.

د تاند د رپوټ له مخې، روسي چارواکو په افغانستان کې مېشت نړیوال ځواکونه تورن کړي، چې په دې هېواد کې له مخدرو موادو سره جدي مبارزه نه کوي.

ایراني بلوچان او د اخوندانو...

د مشهور مقاومت د مشر خطاب وکړ او د هغه له نامه سره یې د ډاکټر لقب وکاروه. د امریکا غږ دغه څرګندونې په امریکا کې د ایراني استوګنو او ایراني حکومت له خوا تر نیوکو لاندې راغلې.

د ریګي ورځنۍ ژوند د نورو جلا غوښتونکو مشرانو له هغه سره ډېر توپیر لري، د بېلګې په توګه ریګي پرله پسې دوې شپې پر یو ځای نه تېرولې او له نورو سره به یې د روغبړ پر مهال له لاسمغو (دسکشو) څخه کار اخیسته.

د ایران دولتي ورځپاڼې د ۲۰۰۵ز کال د اپریل پر اوومه داسې خبر خپور کړ، چې ګني ریګي د افغانستان پولې ته څېرمه د ایراني حکومت په عملیاتو کې وژل شوی دی. ریګي سني بلوچ علماء پر دې تورنول، چې ګني د ده او د ده د ډلې پر ضد د ایراني حکومت ملا تړي.

جندالله سني ایراني ډله ده، چې مشري یې تر دې مهاله عبدالمالک ریګي کوله. پر ۱۹۸۳ ز کې زېږېدلې دی. په ۲۰۰۳ ز کې د لومړي ځل لپاره جندالله هغه مهال په خبري رسنیو کې راڅرګنده شوه، چې کله یې د ایراني ځارګرو د منصوري په نامه یو ضابط وتښتاوه جندالله وایي: د غړو شمېر یې نژدې ۲۰۰۰ دی.

موخه یې په ایران کې د سنیانو د سیاسي او مدني حقوقو تر لاسه کول په ډاکه کړې ده. له طالبانو او القاعدې سره له خپلو اړیکو انکار کوي او نه یې مني، خو د فعالیت سیمه یې هلمند ولایت ته څېرمه د رباط سیمه ده او دا د طالبانو ترکنترول لاندې ده او د داسې هم ویل کېږي، چې په پاکستان کې سخت دریځه او بنسټپالې سني جهنګوي سره اړیکي لري. ایران وایي له جندالله سره د طالبانو، پاکستاني استخبارات، CIA او موساد، په افغانستان کې د ناټو مېشت ځواکونه پردې سربېره په بهر کې د شاه پلویان اړیکي لري.

د جندالله نظامي هڅې او کړنې

په لومړي ځل جندالله هغه مهال د رسنیو د سر ټکی وګرځېد، چې کله یې پر ۲۰۰۵ ز کې د ایران له سرحدي پولیسو څخه ۹ تنه ژوندي وتښتول او بیایې د دوی په بدل کې د خپلو هغو ملګرو د خوشې کولو غوښتنه وکړه، چې له ایراني چارواکو سره بندیان وو. د جندالله بله هڅه هم پر ۲۰۰۵ ز کې رامنځته شوه، د ریګي ملاتړو هغه مهال د زابل او زاهدان ترمنځ په تڅوکي سیمه کې لوړپوړو ایراني چارواکو ته څو (کمین) نیول و او له نښتې وروسته ورته جوته شوه، چې ۲۱ تنه یې وژلي دي او د زاهدان والي له څو روغ وتلی دی. د همدې کال په فبروري کې جندالله له سپاه پاسدارانو سره په نښته کښبوت او نژدې ۱۱ تنه یې ورځنې ووژل. وروسته یې بیا د همدې کال په جون کې ۱۲ ایراني سرتېري وتښتول او د خپلو بندي ملګرو د راخوشې کولو غوښتنه یې وکړه.

د منځ محدودیت های تازه...

و گفت که این تصمیم نهادهای امنیتی آگاهی مردم در بارهٔ این گونه حوادث را کاهش می دهد.

او گفت: "(نهادها و مقام های امنیتی) نمی خواهند که ضعف ها و نواقصی را که در سیستم، پالیسی (سیاستگذاری)، استراتیژی و ظرفیت های کاری مسوولان امنیتی وجود دارد، به مردم نشان بدهند".

سمندر علاوه کرد، مقام ها می خواهند، "حقایق" به مردم منتقل نشود و آنها در این زمینه "محدودیت" وضع می کنند. او این تصمیم نهادهای دولتی را "خلاف قانون اساسی و مواد قانون رسانه ها" دانست. عبدالقدیر میرزایی از مسوولان تلویزیون خصوصی آریانا گفت، اگر نهادهای امنیتی این گونه درخواست ها را از طریق وزارت اطلاعات و فرهنگ مطرح کند، "بهتر" است. میرزایی گفت که پوشش رسانه های تصویری از حوادث تروریستی مطابق به قانون بوده و نظارت بر کار آنها باید از سوی مراجع قانونی صورت گیرد.

هر چند پیش از این هم برخی نهادهای امنیتی از رسانه ها خواسته بودند که برخی ملاحظات امنیتی را در پوشش خبری خود در نظر بگیرند، اما درخواست تازهٔ وزارت داخله، که دیگر نهادهای امنیتی هم از این درخواست حمایت کرده، مورد جدی تری در این زمینه دانسته می شود و این مسأله می تواند، در برابر رسانه های آزاد کشور که هنوز نو پاست، چالش های جدیدی را قرار دهد.

د ناټو دوه نور سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشري نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د افغانستان په سوېل کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ. په کابل کې د یادو شوو ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د کب پر ۱۱مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دغه سرتېري یې ورمه ورځ د افغانستان په سوېل کې په بېلابېلو پېښو کې وژل شوي دي.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې. چې دغه سرتېري یې د وسلوالو مخالفینو د سپکو وسلو په مخامخ برید کې وژل شوي دي.

ایساف په یاده شوې خبرپاڼه کې د پېښو دقیق ځای او د وژل شوو سرتېرو تابعیت نه دی په ډاګه کړی.

د پڑواک د رپوټ له مخې، طالب ویاند قاري یوسف احمدي وویل، د هلمند او کندهار ولایتونو په بېلا بېلو بریدونو کې یې تر شلو زیات بهرني سرتېري وژلي دي.

گفتگوهای هند و پاکستان؛ بازدارنده گی از نوع غیرنظامی

احمد فراهانی

مذاکرات هفتهٔ گذشته نمایندگان هند و پاکستان در دهلی نو جهت تحقق اهداف از پیش تعیین شدهٔ دو کشور با موفقیت همراه نبود، اما با این وجود، بسیاری از تحلیلگران آغاز این مذاکرات را مثبت تلقی کرده و تاکید کرده‌اند که نزدیکی دهلی نو و اسلام آباد می‌تواند، آرامش را به شبه قاره بازگرداند.

مذاکرات اخیر که با پیشنهاد هند و استقبال پاکستان مواجه شد، گامی در جهت تنش زدایی بین دو کشور محسوب می‌شود، اقدامی که یوسف رضا گیلانی از آن به عنوان پل‌سازی به جای دیوارسازی یاد کرده است.

هیأتی به سرپرستی سلمان بشیر قایم مقام وزارت خارجهٔ پاکستان پنجشنبهٔ گذشته در دهلی نو با همتای هندی خود دیدار و گفتگو کرد. مذاکرات بین هند و پاکستان از زمان حملات سال ۲۰۰۸ بمبیی تاکنون با بن بست رو به رو بوده است.

هند اوایل فبروری سال جاری پیشنهاد ازسرگیری مذاکرات دوجانبه با پاکستان را در سطح وزرای خارجه به منظور گفتگو دربارهٔ تروریزم و دیگر مسایل مطرح کرده بود.

روابط هند و پاکستان پس از حمله به دو هوتل مجلل بمبیی در نومبر سال ۲۰۰۸ که به کشته شدن ۱۶۰ تن منجر شد، به شدت بحرانی شده بود.

هند برای بهبود مناسباتش با اسلام آباد، شاخهٔ زیتون به نشانهٔ صلح به همسایه‌اش نشان داده و تحلیلگران تاکید دارند که این اقدام درست و در جهت منافع ملی طرفین است؛ چراکه باید به هر صورت که باشد، مناسبات دو طرف دوستانه شود.

تلاش برای ازسرگیری مذاکرات و گفتگوهای دو جانبه در حالی صورت می‌گیرد که چالش‌های پیش روی دو کشور طی دهه‌های گذشته، بسیار بزرگ بوده است.

گام اول: شکست مذاکرات:

مقام پاکستانی بعد از بازگشت از هند اعلام کرد، این مذاکرات دستاوردی نداشت و گفت: مذاکرات در حالی پایان پذیرفت که اختلافاتی در کلیه مسایل اصلی وجود داشت و قول مبهمی دربارهٔ ادامهٔ تماس فیما بین داده شده بود.

هند ضمن مردود شمردن تقاضا برای از سرگیری گفتگوی جامع با پاکستان، توجه خود را به مذاکره درخصوص حملات سال ۲۰۰۸ بمبیی معطوف داشت.

در حالی که هند تنها از پاکستان برای انجام اقدامات بیشتر در ارتباط با حملات بمبیی درخواست کرده، اسلام آباد مسا[illegible] کشمیر و توقف جریان [illegible] ها به داخل پاکستان [illegible] وی تاکید می‌کند: هند و پاکستان باید این فرصت را بار دیگر به یکدیگر بدهند که روند مذاکرات دو جانبهٔ شان آغاز شود، تا دو طرف نقشهٔ راهی برای پایان تنش و اختلافات شان ایجاد کنند.

دو کشور باید به یافتن راه حل پایداری و سرعت بخشیدن به روند هر نوع مذاکرات آتی متمرکز باشند. باید به هر نوع مذاکرات بین دو طرف فرصت حرکت رو به جلو را داد.

اقبال چیما استاد پوهنتون دفاع ملی پاکستان نیز، در این خصوص می‌گوید:

هند و پاکستان کشورهایی مستقل و دارای حاکمیت هستند و حق آنهاست که روابط خود را گسترش دهند اما ملاحظاتی در خصوص برخی مسایل از جمله در مورد موازنهٔ منطقه‌یی وجود دارد به عنوان مثال ما معتقدیم توافقنامهٔ هسته‌یی بین امریکا و هند ، دهلی نو را قادر خواهد ساخت که سوخت شکافت پذیر(سوخت هسته‌یی که از طریق شکافت هسته‌یی تولید می‌شود) تولید کند و از سوی دیگر، تعامل واشنگتن با اسلام آباد در این خصوص مختلف است و به همان شیوه تعامل با هند نیست.

وی تصریح کرد: کاهش تنش در مناسبات هند و پاکستان و حرکت در جهت صلح پایدار، روند طولانی یی خواهد بود.

چیما دربارهٔ مسألهٔ افغانستان گفت: هند و پاکستان در افغانستان منافع جدی دارند، به همین خاطر، دهلی نو و اسلام آباد در مواردی با یکدیگر در افغانستان به رقابت پرداخته اند.

بی تردید، مذاکرات مقام های هند و پاکستان می‌تواند، به کاهش تنش در مناسبات دو کشور کمک کند.

در مجموع باید تاکید کرد، آغاز گفتگوها بین دهلی نو و اسلام آباد در تغییر دیدگاه های رهبران دو کشور ریشه دارد و درک آنها از اهمیت بازدارنده گی غیرنظامی - از طریق گفتگو و تنش زدایی - با هزینهٔ کمتر و منافع بیشتر، اهداف دو کشور را تامین خواهد کرد.

ارزیابی:

به نظر می‌رسد، هیچکس تاکنون انتظار حصول نتایج چشمگیر از آغاز روند دوبارهٔ مذاکرات بین هند و پاکستان را نداشته است. تمایل دو طرف برای بازگشت به میز مذاکره نشان می‌دهد که دو طرف منطق را سرلوحه کار خود قرار داده اند، یخ روابط را شکسته‌اند و مسیر را برای ایجاد نقشهٔ راه با هدف پایان تنش‌ها و تغییرات در روابط دو کشور، فراهم کرده اند. اگر دهلی نو در زمانی که تراژیدی تروریستی در هند رخ بدهد، دیگر به تعلیق مذاکرات با پاکستان روی نیاورد، به طور قطع، منافع کل منطقه را تامین کرده است. هند اولویت را به حل مسألهٔ تروریزم داده، اما پاکستان معتقد است، این کشور با تنش‌های جدی در ابعاد مختلف رو به رو است.

مقام‌های پاکستانی تاکید می‌کنند این کشور با فقدان توانایی در مقابله با تروریزم مواجه است، نه فقدان تعهد.

مقصود حسن نوری تحلیلگر موسسهٔ مطالعات منطقه‌یی پاکستان معتقد است: هر نوع مذاکره بین هند و پاکستان باید به ایجاد مکانیزم‌های مشترک در تبادل اطلاعات منجر شود.

امور استخباراتی، اولین خط دفاعی در زنجیرهٔ مقابله با تندروانست و لازم است، برای تقویت دو کشور هند و پاکستان، ساختار رسمی مورد قبول دو کشور ایجاد شود، به تنهایی نمی‌توان تروریزم را ریشه کن کرد.

به نظر وی، ساختار مذاکرات بر سر کشمیر نیز، باید دستخوش تغییر شود.

اگر دهلی نو از قرار گرفتن موضوع کشمیر در مراحل بعدی مذاکرات امتناع کند، مذاکرات سرعت خود را از دست خواهد داد.

در موضوع افغانستان، پاکستان تنها به عنوان یکی از عوامل کوچک مرتبط با اوضاع افغانستان به شمار می‌رود.

اگر ثبات در افغانستان ایجاد شود، به طور قطع ثبات در پاکستان نیز، ایجاد می شود و پاکستان با ثبات نیز می‌تواند، با خیال آرامی به مذاکره با هند بپردازد.

قابل توجه علاقمندان روزنامهٔ اراده

روزنامهٔ اراده به اطلاع تمام اداره های دولتی و غیردولتی می رساند که توزیع روزنامهٔ اراده بعد از تاریخ اول حمل سال ۱۳۸۹ به طور رایگان صورت نخواهد گرفت؛ اداره ها و مراجعی که علاقمند دریافت روزنامهٔ اراده هستند، به دفتر روزنامه مراجعه نموده و وجه اشتراک پولی شان را بپردازند و با اشتراک شان در این روزنامه، در رشد، تقویهٔ و گسترش هر چه بیشتر رسانه های آزاد کشور، سهم خویش را اداء نمایند.

وجه اشتراک روزنامه قرار آتی است:

وجه اشتراک	در داخل کشور	برای موسسات،سفارتخانه هاودفترهای خارجی	برای محصلان و متعلمان
سالانه	۲۰۰۰ افغانی	۳۰۰ دالر امریکایی	۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه	۱۰۰۰ افغانی	۱۵۰ دالر امریکایی	۵۰۰ افغانی
سه ماهه	۵۰۰ افغانی	۷۰ دالر امریکایی	۲۵۰ افغانی

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوې، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: حبیب وقار
موبایل :- ۰۷۹۸۷۶۲۰۰۸
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Habib Weqar
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com